**لوړو زده کړو وزارت**

**سپین غر د لوړو زده کړو مؤسسه (ننگرهار)**

**محصلانو چارو معاونیت**

**ازموینو او نتایجو انسجام آمریت**

# د نخبه، مبتکر او ممتازو محصلینو د تشویق او ملاتړ طرزالعمل

**کال: ۱۴۰۳**


بسم الله الرحمن الرحيم

## لیکلړ


مقدمه ........................................................................ 1

د طرزالعمل عمومي موخې او د تطبیق کړنلارې: ........................................................ 2


**اوله برخه**

**اصطلاحات**


محصل ........................................................................ 3

نخبه محصل ........................................................................ 3

ممتاز/ غوره محصل ........................................................................ 3

غوره محصل ځانګړتیاوې: ........................................................................ 3

- نیک نیت ........................................................................ 3
- ښه رویه ........................................................................ 3
- د وخت ښه مدیریت ........................................................................ 3
- په درسونو کې زیار او کوښښ ویستل ........................................................................ 4
- د پوهنتون/مؤسسې پرمختګ ته ژمنتیا ........................................................................ 4
- د راتلونکي لپاره څرګند او کره تصور ........................................................................ 4

ازموینه: ........................................................................ 4

منځنۍ ازموینه: ........................................................................ 4

نهایي ازموینه: ........................................................................ 4

لومړی مقام ګټونګی ( د مؤسسې، پوهنځي او ټولګي په کچه): ........................................ 4

دوهم مقام ګټونکی( د مؤسسې، پوهنځي او ټولګي په کچه): ........................................ 5

درېیم مقام ګټونکی( د مؤسسې، پوهنځي او ټولګي په کچه): ........................................ 5

مبتکر محصل: ........................................................................ 5

**دوهمه برخه**

**د ممتازو محصلینو ټاکلو تګلاره**

الف: په منځنۍ ازموینو کې د ممتازو محصلینو ټاکنه:........................................................ 6

ب: په نهایي ازموینو کې د ممتازو محصلینو ټاکنه: ........................................................ 6

ج: په ملي او نړیوالو سیالیو کې د نخبه محصلینو ټاکنه: ........................................................ 6

**دریمه برخه**

**د ممتازو محصلینو مکافات کولو تګلاره**

الف: د منځنۍ ازموینو ممتاز محصلین: ........................................................ 7

ب: د سمستر ممتاز محصلین:........................................................ 7

- د مؤسسې لومړی، دوهم او دریم مقام ګټونکی:........................................................ 7
- د پوهنځي لومړی او دریم مقام ګټونکی: ........................................................ 7

د نظري زده کړو د وروستي سمستر ممتاز محصلینو مکافات:........................................................ 8

- oد ټولګي لومړی، دوهم او دریم مقام ګټونکی:........................................................ 8

ج: د Exit ازموینې او یا هم په بهرنیو سیالیو کې ممتاز محصل........................................................ 8

- په NMEL،AMC یا بهرنیو سیالیو کې د ممتازو محصلینو مکافات ........................................................ 8
- په ایکزیټ یا بهرنیو سیالیو کې د ممتازو محصلینو مکافات په طلایي مډال (Gold Medal) ........ 8
- تخصص په ازموینه کې بریالیو محصلینو مکافات: ........................................................ 9
- مبتکر محصلینو مکافات:........................................................ 9
- مبتکر محصلینو مکافات:........................................................ 9

## مقدمه

الحمد الله الرحیم الرحمن، خلق الانسان علمه البیان، والصلاة و السلام علی خیر الأنام، نبینا محمد و علی آله و من تبعهم باحسان. اما بعد

د لوی او ښښونکي خدای ﴿جَلَّ﴾شکر په ځای کوو، چې مونږ ته یې ژوند رابښلی، او د لوست او لیک له نعمت څخه یې برخمن کړي یو، او د الله تعالی په پر وروستي پیغمر حضرت محمد مصطفی ﴿ﷺ﴾ چې الهي لومړنی پیغام ورته (لوستل)و. درود وایو. او وروسته

دا چې محصلین د هیواد یو ډېر مهم عنصر بلل کېږي؛ او په محصلینو د افغانستان دولت  او ټولنې د افرادو له لوري په کافي اندازه پانگونه کېږي څو د گران هیواد ټولو عام المنفعه سکټورونو ته مسلکي اشخاص او کادرونه وړاندې شي.

نو همدا علت دی چې محصل د عامو خلکو په پرتله له بیلابیلو اړخونو غوره دی. له دیني پلوه محصل د اسلام لارښوونه په ځای کوي او یا نور خلک تعلیم ته هڅوي. په ټولنیزه توگه محصل له نورو غوره موقف کې دی. په فردي ډول محصل له یوې خوا ډېر معلومات تر لاسه کړي او له بل پلوه یې د راتلونکي ژوند لپاره اړین او ځانگړي مهارتونه زده کړي دي.

د پورته ذکر شویو محصلینو له جملې څخه مونږ یو شمېر نخبه،مبتکر، ممتاز  او د لوړو اخلاقو  لرونکي شخصیت محصلین لرو چې په خپله تحصیلي دوره کې یې داسې ابتکار ترسره کړي چې ټولو ته د منلو وړ وي او یا هم د ډیرو هڅو، زحمتونو او کوششونو له گاللو څخه وروسته یې په ټولگي کې لومړی، دوهم او یا درېیم مقام گټلی وي، نو د ذکر شویو محصلینو د کوششونو او هڅو د ستاینې په موخه سپین غر د لوړو زده کړو مؤسسې، محصلانو چارو معاونیت تر چتر لاندې د ازموینو او نتایجو انسجام آمریت له لوري یاد طرزالعمل په دوه برخو کې ترتیب شوی، ترڅو د ذکر شویو محصلینو هڅې، زحمتونه او کوششونه وستایل شي او نورو محصلینو ته د امیدونو او هیلو  انگیزه ورکول شي، او په راتلونکو ازموینو کې دوی هم د  لاکوششونو ، هڅو او زحمتونو په گاللو سره د ممتازو محصلینو په لیست کې شامل شي.

پدغه طرزالعمل کې د هغه ځانگړنو څخه یادونه شوې چې محصل یې په خپلولو له نورو بیل او د غوره محصل په توگه پېژندل کېږي، دا ځانگړتیاوې له یو اړخه محصل په تحصیلي بهیر کې بریالي کوي او له بل پلوه یې د ټولنې د اغیزمن او گټور غړي په توگه وړاندې کوي.

## د طرزالعمل عمومي موخې او د تطبيق کړنلارې:

- سپین غر د لوړو زده کړو مؤسسه (ننگرهار) د ممتازو محصلینو د ستاینې او سکالرشپ په برخه کې ټولو محصلینو په اړه چې مستحق وي د عدالت او انصاف پالیسی ځخه کار اخلي چې یاده پالیسي د مؤسسې لخوا ترتیب او تائید شوې ده.
- د نخبه، مبتکر او ممتازو محصلینو د استعدادونو او وړتیاوو پېژندنه او پرمختگ: دا چې د محصلینو ځانگړي مهارتونه، پوهه، او نوښتونه وپیژندل شي، ترڅو هغوی ته مناسبې فرصتونه او ملاتړ وړاندې شي چې خپل استعدادونه او وړتیاوې لا ښه وکاروي.
- د شخصي او مسلکي ودې ملاتړ: د مشورتي خدمتونو، مسلکي لارښوونو، او د مسلکي پرمختگ لپاره د مختلفو پروگرامونو له لارې د محصلینو د مسلکي اهدافو په ترلاسه کولو کې مرسته کول.
- د ابتکار او نوښت ملاتړ: د نوښتونو، پروژو، او ابتکاری فکرونو لپاره د منابعو، تمویل، او ملاتړ وړاندې کول چې محصلین خپلې نوښتگرې نظریې او څېړنې په مؤثره توگه پلي کړي.
- د ممتازو محصلینو د تشویق او حمایې طرزالعمل باید په داسې شکل سره عملي شي ترڅو د محصلینو ترمنځ شخصي عقدې د رامنځته کېدو باعث و نه گرځي.
- د ممتازو محصلینو ستاینې او حمایې طرزالعمل باید انعطاف پذیره نه وي بلکې جدي او قاطع وي ترڅو حق خپل حقدار ته ورسي.
- سپین غر دلوړو زده کړو مؤسسه (ننگرهار) د ممتازو محصلینو د ستاینې په برخه کې له هر ډول ژبنیز او توکمیز چلند څخه پاکه ده.
- سپین غر د لوړو زده کړو مؤسسه (ننگرهار) محصل ته د سکالرشپ د ورکړې څخه وروسته په بشپړ ډول خپلې ترسره شوې ښیگڼې ته وفاداره ده.

# اوله برخه

## اصطلاحات

### محصل

هغه شـخص دی چې د لېسانس مقررې او زده کړه يېزو لايحو سره سم د لېسانس په سويه يا له هغه څخه پورته، د پوهې او مهارتونو د ترلاسه کولو لپاره ټاکلې برنامې تعقيبوي.

### نخبه محصل

نخبه محصـل هغه محصل ته ويل کېږي چې په طبي برخه کې يا هم په ملي او نړيوالو تخصصي ازموينو کې د پام وړ داسې لاسته راوړنې ولري، چې سپين غر د لوړو زده کړو مؤسسې ته وياړ، اعتبار او د نوم لوړونې سبب وګرځي.

### ممتاز / غوره محصل

ممتاز محصـل هغه څوک دی چې په خپلو زده کړو کې خورا لوړ فعاليت ترسره کوي. دغه محصل معمولاً د دندو په ترسره کولو او زده کړه کې ژمنتيا، وړتيا، استقامت او زياتو هڅو له لارې ځانګړتيا ښيي.

### غوره محصل ځانګړتياوې:

- **نيک نيت**

که نيت مو دا وي، چې په راتلونکي کې ښه دنده واخلئ، دا بيا يواځې مادي ګټه کوي. د غوره محصل نيت دا وي، چې زده کړه د بندګـانو او  الله﴿جَلَّالَهُ﴾ لـه حقوقو د خبريدو لپاره کوي. همدارنګه يې اراده دا وي، چې د کورنۍ، ټولنې او هيواد لپاره د خدمت جوګه شـي. داسـې محصـل سـره بيا الله ﴿جَلَّالَهُ﴾مرسته کوي او خلک يې هم د بريا دعا کوي.

- **ښه رويه**

غوره محصل د دې تر څنګ، چې په خپلو درسونو کې مخکښ دی، له محصلينو، استادانو او اداري کارکوونکو سره ښه رويه کوي. محصل او ملګري سره مينه لري او د همکارۍ لاس ورغځوي. د استادانو درناوی کوي او لارښوونې يې په غور اوري او عملي کوي يې. له اداري کارکوونکو سـره مهربانه چلن کوي .نوموړی د اخلاقو په ډګر کې نورو محصلينو ته نمونه وي.

- **د وخت ښه مديريت**

د غوره محصـل يوه بله ځانګړنه، چې غوره محصـل له نورو بيلوي د وخت سـم مديريت دی. غوره محصـل ورځنی پلان لري او د ورځنيو کـارونو لپاره يې وختونه ځانګړي کړي. د هرې ورځې په پای کې کارونه ارزوي او د راتلونکې ورځې لپاره پلان جوړوي. پدې توګه هغه د خپل درسي فعاليت، شخصي ژوند او نورو چارو تر منځ انډول برابروي.

- **په درسونو کې زيار او کوښښ ويستل**

غوره محصل د ژوند په هره شېبه د نوو ځيزونو په زده کولو کې هڅه کوي. د پوهنتون/مؤسسې درسونه په ورځني ډول تکراروي. پـه ټولګي کې د اســـتاد درس اوري او ځان پرې پوهوي. د درس په کومه برخه چې پوه نشـــي، له اسـتاد څخه پوښـتنه کوي. همدارنګه د پوهنتون/مؤسـسـې له کتابونو څخه پرته اضـافي مطالعه او څېړنه کوي. له درسونو اخوا د نورو پراخه معلوماتو د لاسته راوړلو تلوسه هم لري. د هر کتاب يا ليکنې له لوستلو وروسته او يا يې په ترځ کې لنډ يادښتونه ليکي او بيا وروسته د اړتيا پر مهال ورته ورګرځي.

- **د پوهنتون/مؤسسې پرمختګ ته ژمنتيا**

غوره محصل سره لدې، چې د خپلې علمي پانګې ډېرولو او د پوهې کچې لوړولو لپاره کوښښ کوي، د اړونده ادارې (پوهنتون يا تحصـيلي موسـسـې) په مادي او معنوي پرمختګ کې زيار باسـي. د چاپيريال له خوندي سـاتلو بيا د لابراتوار او کتابتون د وسـايلو تر ساتنې پورې، هره وړه هڅه کوي، چې د پوهنتون/مؤسسې په پرمختګ کې مرسته وکړي. له پوهنتونه/مؤســـســـې بهر د خپل پوهنتون/مؤســـســـې ســـم اســـتازيتوب کوي او د څېړنې له لارې خپل پوهنتون/مؤسسې ته علمي او د باور وړ اثرونه توليدوي.

- **د راتلونکي لپاره څرګند او کره تصور**

ممتاز محصـل هغه دی، چې يواځې د اوس لپاره درس نه وايي، بلکې د راتلونکي لپاره منظم، واضح او دقيق تصور لري. د روانو چارو د تحليل وس پکې دی او د دې په ځای، چې د حالاتو تر اغيز لاندې راشي په خپله شخصي او ټولنيزه ګټه يې د بدلولو هڅه کوي. د پريکړې صـلاحيت لري او له ګواښـونو ويره نکوي، بلکې د مقابلې چمتووالی ورته کوي.

**ازموينه:** عبارت د هغه تګلارې او پروسې څخه ده؛ چې په يوه ټاکلي دوره کې د محصـلينو د پوهې د ترلاسـه کولو درجه يا د عملي کړنو او د تحصيلي مهارتونو ارزيابي پکې ترسره کېږي.

**منځنۍ ازموينه:** هغه ازموينه ده چې د سـمسـتر د درسـي بهير له اتمې اونۍ وروسـته د محصـلينو د ترلاسـه شوې پوهې او تحصيلي مهارتونو د ارزونې لپاره اخيستل کېږي.

**نهايي ازموينه:** هغه ازمويه ده چې د سـمسـتر پای څخه وروسـته د محصـلينو ترلاسـه شـوي پوهې او تحصـيلي مهارتونو ارزيابي پکې ترسره کېږي.

## لومړی مقام ګټونکی ( د مؤسسې، پوهنځي او ټولګي په کچه)

هغه محصـلين چې د مؤسسې، پوهنځي او يا د ټولګي په کچه د سمستر اوسط نمرې يې په لومړۍ درجه کې وي لومړی مقام ګټونکی بلل کېږي.

### دوهم مقام گټونکی( د مؤسسې، پوهنځي او ټولګي په کچه)

هغه محصـلين چې د مؤسـسې،  پوهنځي او يا د ټولګي په کچه د سمستر اوسط نمرې يې په دوهمه درجه کې وي دوهم مقام ګټونکی بلل کېږي.

### درېيم مقام ګټونکی( د مؤسسې، پوهنځي او ټولګي په کچه)

هغه محصـلين چې د مؤسـسې،  پوهنځي او يا د ټولګي په کچه د سمستر اوسط نمرې يې په درېيمه درجه کې وي درېيم مقام ګټونکی بلل کېږي.

### مبتکر محصل

مبتكر محصل هغه محصل ته ويل کېږي چې په خپله علمي برخه (تطبيقاتو، ناروغيو تشخيص يا درملنې) کې نوي حقايق كشـف او تشـخيص کړي، په داسې ډول چې دغه حقايق او تشخيص د اهل خبره او مسلکي اشخاصو لخوا تائيد او ثبت شي.

## دوهمه برخه

## د ممتازو محصلینو ټاکلو تګلاره

د یاد طرزالعمل له مخې، په سپین غر د لوړو زده کړو مؤسسه کې د ممتازو محصلینو ټاکنه په دوه وختونو کې ترسره کېږي. د ممتاز محصـل لومړنۍ ټاکنه د منځنۍ ازموینې له پای ته رسېدو وروسته او دوهمه ټاکنه د سمستر د نهایي ازموینې په پای کې په لاندې ډول ترسره کېږي:

### الف: په منځنۍ ازموینو کې د ممتازو محصلینو ټاکنه

لکه څنګه چې د سـمسـتر منځنۍ ازموینه د سـمسـتر د درسي بهیر له اتمې اونۍ وروسته اخیستل کېږي، د اخیستل شویو ازموینو د نهایي پایلو په اساس هغه محصلین چې د پوهنځي په کچه لومړی مقام ګټونکي وي، د پوهنځي په کچه ممتاز محصل ګڼل کېږي.

### ب: په نهایي ازموینو کې د ممتازو محصلینو ټاکنه

کله چې د سـمسـتر نهایي ازموینې پای ته ورسـېږي، د نهایي ازموینو د پایلو په اسـاس د مؤسـسې په کچه لومړی، دوهم او درېیم مقام ګټونکي، د پوهنځي په کچه لومړی، دوهم او درېیم مقام ګټونکي، او د ټولګي په کچه لومړی، دوهم او درېیم مقام ګټونکي اعلانېږي.

### ج: په ملي او نړیوالو سیالیو کې د نخبه محصلینو ټاکنه

هغه فارغ محصـلین چې په ملي او نړیوالو تخصـصـي سـیالیو کې د سپین غر د لوړو زده کړو مؤسسې د ټولو کامیابو ګډونوالو ترمنځ لوړې نمرې ترلاســه کړې وي، او پایلې یې رســماً د یادې ادارې ســره شــریکې شــوې وي، نخبه محصلین ګڼل کېږي.

## درېیمه برخه

## د ممتازو محصلینو مکافات کولو تګلاره

### الف: د منځنی ازموینو ممتاز محصلین

هغه محصـــل چې په منځنی ازموینه کې د پوهنځي په کچه لومړی مقام ګټونکی شـــي، د یاد ممتاز محصـــل لنډ شهرت او تصویر په یو فریم کې ترتیب او د مؤسسې ټولنیزو پاڼو له لارې د ستاینې په موخه خپور شي.

### ب: د سمستر ممتاز محصلین

سـپین غر د لوړو زده کړو مؤسسې د رهبریت له لوري هغه محصلین چې په سمستر کې د لوړو نمرو په اخیستلو سره ممتاز وګڼل شي په لاندې ډول ستایل کېږي:

- **د مؤسسې لومړی، دوهم او درېیم مقام ګټونکی**

هغه محصـلین چې د مؤسـسې په کچه لومړی، دوهم او یا درېیم مقام خپل کړي، د مؤسسې رهبری د پریکړې په اساس د مؤسسې په کچه ذکر شوي محصلین  په یو یو میډال (ستاینلیک) ستایل کېږي.

- **د پوهنځي لومړی او درېیم مقام ګټونکی**

هغه محصـلین چې د پوهنځي په کچه لومړی، دوهم او یا درېیم مقام خپل کړي، د مؤسـسې رهبری د پریکړې په اساس یاد محصلین د مؤسسې لخوا په تعیین شوي سکالرشیپونو په لاندې ډول ستایل کېږي.

د وروستیو ټولګیو پرته د نورو ټولګیو ترمنځ د پوهنځي په کچه د لوړو نمرو لرونکو محصلینو مکافات

| د پوهنځي په کچه د ممتازو محصلینو مکافات | | | |
|---|---|---|---|
| ګڼه | پوهنځی | درجه | د نوي سمستر په جمله کې جمله تخفیف (افغانی) |
| 1 | عمومي طب پوهنځی | د پوهنځي په کچه لومړی مقام لرونکی | 12000AF |
| | | د پوهنځي په کچه دوهم مقام لرونکی | 9000AF |
| | | د پوهنځي په کچه درېیم مقام لرونکی | 6000AF |
| 2 | غاښونو طب (طب دندان) پوهنځی | د پوهنځي په کچه لومړی مقام لرونکی | 5000AF |
| | | د پوهنځي په کچه دوهم مقام لرونکی | 3500AF |
| | | د پوهنځي په کچه درېیم مقام لرونکی | 2500AF |
| 3 | طبي ټکنالوژي پوهنځی | د پوهنځي په کچه لومړی مقام لرونکی | 4500AF |
| | | د پوهنځي په کچه دوهم مقام لرونکی | 3500AF |
| | | د پوهنځي په کچه درېیم مقام لرونکی | 2500AF |

### د نظري زده کړو د وروستي سمستر ممتاز محصلینو مکافات:

| سپین غر د لوړو زده کړو مؤسسې (ننګرهار) نظري زده کړو د وروستي سمستر د محصلینو مکافات | | |
|---|---|---|
| **ګڼه** | **خپلوونکی مقام** | **مکافات** |
| 1 | د معالجوي طب (MD) پوهنځي وروستي سمستر لومړی مقام لرونکی | په ټاکلي فیس کې د یو کال لپاره لس سلنه تخفیف |
| 2 | د ستوماتولوژي (DMD) پوهنځي وروستي سمستر لومړی مقام لرونکی | په ټاکلي فیس کې د یو کال لپاره لس سلنه تخفیف |
| 3 | د طبي ټکنالوژی (BMLT) پوهنځي وروستي سمستر لومړی مقام لرونکی | په ټاکلي فیس کې د یو کال لپاره ۱۵ سلنه تخفیف |

یادونه: پورتنی تخفیف د ستاژ دورې عمومي فیس او تخفیف څخه علاوه دی او یوازې د وروستي سمستر ممتازو محصلینو ته داجراء وړ دی.

- د ټولګي لومړی، دوهم او درېیم مقام ګټونکی:

هغه محصـلین چې د ټولګي په کچه لومړی، دوهم یا درېیم مقام خپل کړي، د مؤسسې رهبری د پریکړې په اساس، د یوې ستاینغوندې په ترڅ کې په یوه ستاینلیک سره ستایل کېږي. همداراز، د یادو محصلینو شهرت او ترلاسه شوي مقام کیفیت به چاپ شي او د یوې سمستر لپاره د مؤسسې په انګړ کې په ټاکل شوي ځای کې نصب شي.

## ج: د Exit ازموینې او یا هم په بهرنیو سیالیو کې ممتاز محصل

- په NMEL، AMC یا بهرنیو سیالیو کې د ممتازو محصلینو مکافات

هغه محصلین چې په ایکزیټ یا نورو بهرنیو ازموینو کې بریالي شوي وي، مګر له اتیا سلنه څخه کمې نمرې ترلاسه کړي وي، د سپین غر د لوړو زده کړو مؤسسې د علمي شورا د پریکړې پر اساس د یوې ستاینغوندې په ترڅ کې ستایل کېږي او د پریکړې په اساس جوایز ورکول کېږي.

همداراز، کوم محصـلین چې په بهرنیو هېوادونو کې د طبي زده کړو یا دندو په برخه کې علمي پرمختګ کړی وي، هغوی ته به هم په غونډه کې د ګډون بلنه ورکړل شي. د (FCPS) او (MCPS) غړیتوب ترلاسه کول د مؤسسې د فارغانو لویې لاسته راوړنې ګڼل کېږي.

- په ایکزیټ یا بهرنیو سیالیو کې د ممتازو محصلینو مکافات په طلایي مډال (Gold Medal)

هغه فارغ محصلین چې په مشخصه ایکزټ ازموینه کې د سپین غر د لوړو زده کړو مؤسسې د ټولو کامیابو ګډون کوونکو ترمنځ لوړې نمرې ترلاسه کړي وي، د هرې ایکزټ ازموینې د نتایجو رسمي اعلان وروسته به د ټولو هغو محصلینو لپاره چې په ایکزټ ازموینه کې بریالي شوي او پایله یې د افغانستان طبي شورا لخوا رسماً د سپین غر د لوړو زده کړو مؤسسې سره شریکه شوې وي، غونډه دایرېږي.

د يادې غونډې په ترڅ کې به هغه محصلینو لپاره ( د محصلینو د فیسونو، مکافاتو، او تخفیفونو د اجراء طرزالعمل) له مخې د طلايي مډال ترلاسه کولو مستحق ګڼل کيږي، طلايي مډال او (Merit Certificate) ترلاسه کوي. په یوه غونډه کې د طلايي مډال ترلاسه کونکو شمېر له یو څخه ډیربدای نه شي.

- **تخصص په ازموینه کې بریالیو محصلینو مکافات**

سپین غر د لوړو زده کړو مؤسسې (ننګرهار) هغه فارغان چې د تخصص په ازموینه کې بریالي شوي وي، دا ډول محصلینو ته به د ممتازو محصلینو په غونډه کې ستاینلیکونه ورکول کېږي. په تخصص کې د بریالي شویو محصلینو احصائیه به د تخصص د هرې ازموینې وروسته د کارمونډې او مشوره ورکونې آمریت لخوا ترلاسه کېږي او رسماً په محصلانو چارو معاونیت سره شریکېږي ترڅو بریالي محصلین رسماً د ممتازو محصلینو ستاینغونډې ته وبلل شي.

- **مبتکر محصلینو مکافات**

د سپین غر د لوړو زده کړو مؤسسې برحاله یا فارغ محصلین چې په خپله علمي برخه (تطبیقاتو، ناروغیو تشخیص، یا درملنې) کې داسې څه کشف او تشخیص کړي چې یاد حقایق او تشخیص د اهل خبره او مسلکي اشخاصو لخوا تائید او ثبت شي، سپین غر د لوړو زده کړو مؤسسه یادو محصلینو ته غونډه دایروي، چې د یادې غونډې په ترڅ کې یاد محصلین په طلايي مډال او (Merit Certificate) ستایل کېږي.

- **څېړنې ترسره کوونکو محصلینو مکافات**

سپین غر د لوړو زده کړو مؤسسې برحاله محصلین چې په خپله علمي برخه کې څېړنه ترسره کړي او یاد څېړنه د اهل خبره او مسلکي اشخاصو لخوا تائید او ثبت شي، سپین غر د لوړو زده کړو مؤسسه یادو محصلینو ته غونډه دایروي، چې د یادې غونډې په ترڅ کې یاد محصلین د علمي چارو معاونیت له لوري د ترتیب شوي طرزالعمل لمخې ستایل کېږي.

و من الله التوفیق

د یو بنیرازه، اباده او د علم په زیور سمبال افغانستان په هیله

پورته د نخبه، متبکر او ممتازو محصلینو د تشویق او ملاتړ طرزالعمل د مؤسسې علمي شورا په ( ۳ )ګڼه-۲۹/ ۱ / ۱۴۰۳ نېټه جلسه کې د رایو په اکثریت سره تائید شو.

د مؤسسې علمي شورا مسؤل لاسلیک